SHARIAT WEEKLY

شریعت

په اوونی کې دوه ځله خپرېږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

څلورم کال اته دیرشمه گڼه پرله پسې (۲۲۸) یکشنبه د۱٤۲۰هـ ق کال د صفر المظفر (۱۵)د۱۳۷۸هـ ش کال د غبرگولي دمیاشتي(۹)د۱۹۹۹میلادي کال د مي (۳۰)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډير نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید.

د سرپرستي شورا محترم مرستیال د ختیځ زون مسؤولینو ته په خطاب کي :

د هیواد د لوړو ارزښتونو په دفاع کي د ختیځ زون دینداره خلك ځانگړي ځای لري

د سرپرستي شورا مرستیال او د ختیځ زون تنظیمه رئیس محترم مولوي عبدالکبیر پرون د جلال آباد په ښار کي د ختیځ زون یو شمیر نظامي او ملکي مسؤولین سپین ږیري او مخورعلما کرام او روحانیونو او د خیبر ایجنسي یو شمیر مشایخ په جلا جلا توگه د کتني لپاره خپل حضور ته ومنل.

د جلال آباد له ښار نه د باختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ په دغو کتنو کي چي په جلا جلا توگه وشوي لومړي ملکي او نظامي مسؤولینو سپین ږیرو او مخورو او کرامو عالمانو هر یو د خپلو افرادو او خلکو په نمایندگي خبري وکړي او یو ځل بیا یې د کورنیو او بهرنیو دښمنانو او دسیسو په وړاندي خپل هر اړخیزه‌جگړه ییز چمتوالي څرگند او دغه راز یې په هیواد کي د مفسدو ملیشو توطئو د شنډولو ژمنه وکړه .

وروسته د سرپرستي شورا محترم مرستیال د دښمنانو د دسیسو او توطئو په وړاندي د سرښندني او میړاني په کار کي د ختیځ زون د خلکو د اسلامي او تودو ولولو د ستاینلو په ترڅ کي وویل: په هیواد کي د اوسیدونکو او د هغوی د لوړو ارزښتونو په دفاع کي د کراوونو په زغملو او د زیاتو قربانیو په ورکولو سره د ختیځ زون دینداره خلك ځانگړي ځاي لري او د افغانستان اسلامي امارت په بیلا بیلو برخو کي سیاسي زیاروتو او سرښیندنو ته د قدر په سترگه گوري.

د کانو او صنایعو په وزارت کي :

د هیواد د صنعتی مسایلو په هکله گټوري او رغنده خبري وشوي

د کانو او صنایعو وزارت سرپرست محترم مولوي احمد جان پرون د پاکستان له پنځه کسیز هیأت سره چي ددغه هیواد د کانونو او پطرولو د پخواني وزیر ښاغلي انور سیف الله په مشري په دي وروستیو وختو کي کابل ته راغلي دي ص ٤

د بامیانو د کهمرد د ولسوالي خلکو د جگړه مارو ملیشو پر ضد د خپل جهاد پر دوام باندي ټینگار وکړ

د بامیانو ولایت د کهمرد ولسوالي خلکو پرون د یوي غونډي په جوړولو سره یو ځل بیا د اسلامي اردو له ځواکونو سره په هر اړخیزي همکاري ټینگار وکړ او ژمنه یې وکړه چي د جگړه مارو ملیشو پر ضد تر وروستي سلگي پوري خپل جهاد او مبارزي ته دوام ورکوي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دغي غونډه کي چي د بامیانو ولایت امنیه قوماندان محترم ملا حضرت محمد اخند هم حاضر و د کهمرد ولسوال محترم مولوي بسم الله احمدي د محکمي قاضي محترم مولوي محمد اسماعیل او څو تنو نورو عالمانو په وار سره د اسلامي امارت د عام المنفعه هدفونو او پروگرامونو په باب اوږدي خبري وکړي او د افغانستان د خلکو د دښمنانو ناوړه غرضونه یې د هغي ولسوالي خلکو ته بیان کړل .

په مقابل کي د کهمرد ولسوالي څو تنو مخورو د خپلو خبرو په ترڅ کي د افغانستان د خلکو د دښمنانو ناوړه پلانونه او هدفونه وغوندل او د افغانستان د اسلامي امارت د لوړو هدفونو په تحقق کي یې په خپلي هر دول همکاري ټینگار وکړ او ژمنه یې وکړه چي تر وروستي سلگي پوري د جگړه مارو ملیشو پر ضد خپل جهاد او مبارزي ته دوام ورکوي او د اسلامي هدفونو د تحقق لپاره هر راز سرښیندني ته چمتو دي.

د مخدره موادو د کنترول په اداره کي :

د مخدره موادو د ناوړو زیانونو په هکله یو علمي ورکشاپ جوړ شو

د کابل د مخدره موادو د کنترول او سمون اداري پرون د مخدره موادو د پیژندني او د هغو د ناوړو زیانونو او نتیجو تر عنوان لاندي ددغي اداري د کنفرانسونو په تالار کي یو علمي او روزنیز ورکشاپ جوړ کړ .

دغه ورکشاپ چي د مخدره موادو پر خلاف د مبارزي د امارتي عالي کمیسیون د مشرتابه هیأت د مخدره موادو د کار پوهانو دیني عالمانو، د اړوندو روغتونونو د ډاکترانو د مدرسو او د لوړو زده کړو د موسو د استادانو کورنیو خبریالانو او لیکوالانو په ٤ مخ

با قرائت دعائیه توسط محترم شیخ الحدیث الحاج مولوي عبدالعلي دیوبندي :

اجتماع بزرگ تربیتی علماي کرام، مسؤولین امارت اسلامي و طلباي محترم در شهر کندهار با نتایج سودمند و ارزشمند پایان پذیرفت

نتایج این اجتماع ده هزار نفري گام مثبت تاریخي در جهت تحقق اهداف جهاد و آمال مردم مجاهد ما میباشد

راه حل مشکلات و راه بیرون رفت از آن تعقیب پالیسي امارت اسلامي افغانستان است

اجتماع بزرگ تربیتی که به اشتراك بیش از ده هزار تن ازعلماي کرام مسؤولین بلند پایه امارت اسلامي افغانستان و طلباي محترم دو روز قبل در مدرسه جهادي مرکزي کندهار تدویر گردیده بود ضمن آنکه پیام عالیقدرامیر المؤمنین در آن قرائت گردید با نتایج سودمند و ارزشمند خاتمه پذیرفت .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از شهر کندهار خبر میدهد : دور نهایي این اجتماع بزرگ تربیتي با قرائت آیاتي متبرکه قرآن عظیم الشأن آغاز گردیده سپس محترم شیخ الحدیث مولانا زرولي خان عالم جید محترم مولانا عبالغني عالم و مجاهد برجسته محترم مولانا انور الحق ، محترم سید عزت الله شاه آغا ، محترم مولوي سیف الدین عالم جید ولایت کندهار و محترم ملا امیر خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و کلتور بالنوبه در رابطه به اوضاع سیاسي ، نظامي و تحولات و انکشافات اخیر کشور و نیز پیرامون توطئه ها و دسایس دشمنان نظام اسلامي در تباني با استکبار جهاني که باداران خارجي آنان نیز کاملاً مایوس گردیده به شاملین اجتماع توضیحات همه جانبه ارائه نموده آنان را در روشني دست آورد هاي بزرگ امارت اسلامي که اخیراً به حمایت و پشتیباني بي دریغ مردم افغانستان در عرصه هاي سیاسي ص ٤

شوراي علمي و میتودیك وزارت تحصیلات عالي داير گردید

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : این شورا که تحت ریاست محترم مولوي حمد الله «نعماني» سرپرست وزارت تحصیلات عالي تدویر یافت پس از تلاوت آیاتي چند از کلام الله مجید پیرامون اجناي مطروحه بحث همه جانبه صورت گرفته و بخاطر حل معضله هاي بودجوي اعاشه و اباته محصلان واجد شرایط لیلیه هاي پوهنتون هاي هرات، کندهار، تدویر کورسهاي داخل خدمت براي مامورین جدید التقرر تعیین معیار ها براي پذیرش محصلین قبایلي ماوراي مرز به پوهنځي هاي مؤسسات تحصیلات عالي امارت اسلامي افغانستان فیصله ها اکادمیکي اتخاذ گردید.

بعداً موضوع ارزیابي سند فراغت فارغ التحصیلان موسسه تحصیلي ساینس و تکنالوژي که به کمك مالي موسسات خیریه در ولایت ص ٤

در دارالایتام علاؤالدین (۵۰۰) تن از اطفال اناث تحت تربیه و آموزش قرار دارند

شریعت : در این اواخر پروتوکولي میان امارت اسلامي افغانستان و مؤسسه خیریه‌اطفال در معرض خطر » به موافقه رسید که در اثر این پروتوکول تعمیر قبلي دارالایتام که در منطقه علاو الدین موقعیت دارد و در نتیجه جنگهاي قبلي تخریب گردیده بود اخیراً دو باره اعمار و باز سازي گردیده و از مدت دو ماه بدین سو اطفال که قبلاً در دارالایتام «تهیه مسکن» بسر میبردند، یك تعداد آن دو باره به دارالایتام علاو الدین متقل گردیده است .

خبرنگار هفته نامه شریعت از دارالایتام مذکور دیدن نموده چنین گزارش میدهد : همین اکنون در شهر کابل اطفال یتیم و بي سرپرست در دارالایتام تهیه مسکن و دارالایتام علاو الدین در تعمیر هاي جداگانه اناث و ذکور تحت ص ٤

پاك کاري جوي هاي ساحه میدان هوایي تا شفاخانه ٤۰۰ بستر ادامه دارد

جمعیت عالي افغاني سره میاشت به همکاري با پروژه کار در مقابل غذا در پاك کاري جوي که از میدان هوایي خواجه رواش الي شفاخانه چهار صد بستر پر از کثافات میباشد سهم فعال خویش را ادا نموده است .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد درین پروژه کار در مقابل غذا که از کمك هاي مالي کمیته اي . سي. ار. سي برخوردار میباشد یك صدو شصت و چهار نفر استخدام گردیده است بومیه براي هر نفر مدار پنج کیلو گرام گندم در مقابل کار تادیه میگردد.

محترم مولوي عبدالکریم رئیس حج و اوقاف ولایت فارياب :

از درك عشر و زکات مبلغ ۸۰۲۱۵۰۰۰۰ افغاني نقد و ۳۶۷۳ رأس گوسفند عواید بدست آمده است

شریعت : بعد از پیروزي امارت اسلامي افغانستان در صفحات شمال کشور مدیریت عشر و زکات در چوکات ریاست حج و اوقاف ولایت فارياب جدیداً تأسیس و به تعداد ٤۹ نفر مامور و اجیر در بست این مدیریت در مرکز و ولسوالي ها از طریق مقام محترم ولایت استخدام و بکار فعالیت خود آغاز و فعلاً حاضر وظیفه ص ٤

امتحانات سمستر دوم پوهنځي طب ننگرهار آغاز گردید

جلال آباد : قرار گزارشات رسیده به اداره هفته نامه شریعت امتحانات سمستر دوم پوهنځي طب ننگرهار در روز شنبه مطابق چهاردهم ماه صفر المظفر آغاز یافت. پوهنځي طب ننگرهار با داشتن ۸۳۵ محصل از مراکز اساسي تحصیلات عالي در کشور محسوب میگردد.

امتحانات مذکور که مدت سه هفته دوام خواهد نمود مطابق به نورم هاي بین المللي اخذ خواهد گردید. پوهنځي طب ننگرهار تا حال چندین دوره فارغ التحصیل به ص ٤

ریاست شهداء و مهاجرین ولایت پکتیا با ۳۵۷ فامیل بي بضاعت در آنولایت کمك نقدي نمود

مبلغ یکصدو سي و دو ملیون و هشتصد و پنجاه هزار افغاني پول نقد اخیراً از طریق ریاست شهداء و مهاجرین ولایت پکتیا به ۳۵۷ فامیل در ولسوالیهاي مربوط انولایت توزیع ص ٤

د ملي گارد مجاهدینو د سپیڅلي جهاد تر څنگ د خپلي قرارگاه په بیا ودانولو کي هم پوره برخه اخیستي ده

شریعت : د ملي گارد کرامو طالبان که له یوي خوا د افغانستان د اسلامي اردو د قطعاتو تر څنگ د باطل پر ضد جهاد کښي پوره ونډه اخیستي د هیواد بیا ودانول یې هم خپل مسؤولیت بللي چي په همدي ارتباط د ملي گارد طالبانو د گارد د عمومي قوماندان محترم ملا رحمت الله «سنگریار» په هدایت او لارښوونه ٤ مخ

د جوزجان ولایت د امنیي محترم قوماندان ملا عبدالرزاق آخند د شریعت اوونیزي له خبریال سره په مرکه کي :

د جوزجان په ولایت کی الحمد لله بشپړ امنیت ټینگ او خلك هوسا ژوند لري

شریعت : قدرمنو مینه والو زموږ خبریال د هیواد شمال ته د سفر په وخت د جوزجان ولایت د امنیي له محترم قوماندان سره یوه لنډه مرکه کړي چي دا دي تاسي ته یې وړاندي کوو :

پوښتنه : د جوزجان په ولایت کښي د افغانستان اسلامي امارت تر حاکمیت وروسته په امنیتي او سیاسي چارو کي کوم تغییرات راغلي دي په دي هکله ستاسو نظر څه دي ؟

ځواب : د جوزجان په ولایت کښي د طالبانو له راتگ نه وروسته په فضل د لوي خداي «ج» امنیت تامین او ټول خلك په ارامه توگه ژوند کوي او اوس هیڅ کوم تشویش نشته ډیر د افتخار ژوند د لوي خداي«ج» په نصرت سره دي خلکو ته میسر شوي مخ ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د هند حکومت څوك هڅوي

چي په دغه شړیدلي سیاسي او اقتصادي حالت کي یي د کشمیر په سر له پاکستان سره یوه خطر ناك جدیت ته لاس واچاوه ؟

هند په سویل ختیزه اسیا کي لوي او ځواکمن هیواد دي په ځانگړي ترگه په پوځي برخه کي پخواني شوروي اتحاد دومره مرستي ورسره کړي دي چي د نړۍ له غټو پوځي ځواکونو سره یې سیالي کولاي شوه، او دا دي اوس د نړۍ اتومي ځواك گرځیدلي دي.

بلي خواته پاکستان په سیمه کي یو اسلامي هیواد او له هند نه ورکوټي دي، اقتصاد یي هم ډیر پیاوړي نه دي، پوځ یي له هند څخه کم مگر ډیر با ایمانه، منظم، وسن او وسیشیر پوځ دي چي د هند پوځ ته یي له زیاتوالي او ډیر وسایلو سره سره په پخوانیو جگړو کي شرموونکي ماتي ورکړي دي.

هند او پاکستان له پیل نه د کشمیر په سر سره لاس او گریوان دي برسیره په دوه دودي ځله لویو جگړو پوله ایزي (سرحدي) نښتي د دوي تر منځ له ځاني او ماتي تلفاتو سره سره تل دوام لري، په اوس وخت کي هند په ډیريد ۲ مخ

تیم هاي والیبال مدارس اماني و دارالایتام برنده شناخته شدند

به ادامه تورنمنت مسابقات بهاري والیبال مدارس شهر کابل که اخیراً از طرف ریاست تربیت بدني وزارت معارف راه اندازي گردیده است تیم والیبال مدرسه دارالایتام بر تیم والیبال مدرسه غلام حیدر خان غالب گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در مسابقات والیبال که امروز بین تیم هاي مدرسه دارالایتام مرکزي و تیم والیبال مدرسه غلام حیدر خان در جمنازیوم مدرسه عالي اماني صورت گرفت در نتیجه تیم والیبال مدرسه دارالایتام بر تیم مدرسه غلام حیدر خان غالب شناخته شد.

همچنان در دور دوم این مسابقات که بین تیم هاي والیبال مدرسه عالي اماني و تیم والیبال مدرسه عاشقان و عارفان ص ٤

کورس آموزش هاي مالي و اداري در وزارت زراعت آغاز گردید

کورس قصیر المدت آموزش هاي مالي و اداري براي کارمندان جدید التقرر در مربوطات وزارت زراعت دیروز طي مراسمي آغاز گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : کورس متذکره با تلاوت اياتي چند از کلام الله مجید آغاز بعداً محترم مولوي عبدالغیاث قانع معین خدمات مالداري وزارت زراعت در رابطه به اهمیت تدویر همچو کورس ها و ازدیاد آموزش معلومات مالي و اداري کارمندان جدید التقرر صحبت نموده شاملین کورس متذکره را متوجه مسؤولیتهاي بعدي شان نمود.

طبق یك خبر دیگر کورس ازدیاد معلومات کوپراتیفي که چندي قبل در ریاست عمومي انکشاف کوپراتیف هاي زراعتي وزارت زراعت داير گردیده ص ٤

شریعت

دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
په پېښور کې : دطالبانو نمایندګۍ تیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

سیاسي ناتار کې ولاړ دي، هلته پارلمان نشته، پارلمان او پارلماني حکومت د ګوندونو د اختلاف له امله منحل شوي دي، بواځنی لوی سیاسي ګوند (کانګرس) چې په داسې وختونو کې به تمه ورته کېده د خپلمنځي اختلافاتو له کبله د پاشل کېدو په درشل کې دي، د هند جمهور رئیس د پارلمان او حکومت له منحل کولو وروسته د کانګرس مشرې سونیا ګاندي ته د حکومت جوړولو بلنه ورکړه خو هغې له یو څه منهو تړو او خپلې بې وسې وروسته عذر وړاندې کړ چې نشي کولای حکومت جوړ کړي!

د هند جمهور رئیس د دیموکراسۍ له برکته(!) په دغه سیاسي ناتار کې نه د نویو انتخاباتو تصمیم نیولای شي او نه یې له دې پرته بله لاره شته چې د پخواني لوی وزیر واجپايي په لنډ مهاله (موقت) او فرماني حکومت باندې تر ډېره وخته پورې تکیه وکړي او موده یې اوږده کړي!

له بلې خوا په هند کې د لوږې ، بیکارۍ، اقتصادي بې شمیره ستونزو، ناروغیا وو، په تېره د (ایډز) لوی لعنتي کړاوونه د حکومت مخې ته هغه درانده خنډونه دي چې لنډ مهاله فرماني حکومت خو لا پرېږده چې پارلماني حکومتونه یې هم یو په بل پسې د داسې خنډونو له منځه وړلو ته لاس ترزني کیناستلي او بیوسه له منځه تللي دي، بیا تر ټولو لوی خنډ د جدايي غوښتونکو سکانو، تاملیانو او نورو لږ کیو سیاسي او نظامي ستونزې هغه کړاوونه دي چې د هند حکومتونه د دوی د تکړه مرستندوی او سیاسي ښوونکي (شوروي اتحاد) له پنا کېدو وروسته هك حیران ورته پاتي او په دغه هکله یې هیڅ له لاسه نه دي پوره شوي!

اوس څوك نه پوهېږي چې هندي پوځ د قانوني حکومت له نشتوالي او دومره بې شمیره سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او نظامي ستونزو سره سره څرنګه د کشمیر په سر له پاکستان سره یوې خطرناکې لوبې ته لاس واچاوه؟ چې د علم صرف په اصطلاح ابتدایي په ساکن راغله او په لومړي الوتنه کې یې دوه الوتکې او بیا یوه څرخي الوتکه د پاکستان د هوایي دفاع ویښو او ځیرکو ښکاریانو ورته لسکورې کړې چې کیدای شي په دې سره د هندي پوځ یو څه سد سر ته ورغلي وي.

کتونکي چې د داسې لنډ فکره لمسونو په هکله فکر کوي نو دا لاندې احتمالي علتونه یې په پام کې ورځي چې ۱-: یا به هندي پوځ د اتومي ځواك په نشه کې له ځانه بېځانه (بیخوده) شوي وي او د خپل زور او بخت ازمویل به غواړي، که دغه احمق خیال یې لرلي وي نو بیا خو اوس هغه وخت نه دي چې د مشرقي پاکستان (اوسني بنګله دیش) د جلا کېدو په وخت کې ؤ اوس خو پاکستان هم یو اتومي ځواك دي، که خېره خداي تعالی دي نکړي د اتومي ښکر کو د ورشېلو شوه نو بیا خو به نه یوازې هند او پاکستان بلکې ټوله سیمه ، حیوان او نبات د زمکې له کرې څخه بیخي ورك شي،

۲- یا به په هندي پوځ کې د پردیو مزدوان وي او د خپلو باداراتو په لمسونه به غواړي چې هند په دغه بده ورځ باندې د پاکستان په لاس وځپي ،

۳- داسې احتمال هم یادېږي چې ایران خو پاکستان ته هرو مرو د پاکستاني شیعه ګانو او له افغانستان سره د ښه ګاونډیتوب پالنې له امله په غوسه دي ځکه چې د پاکستان حکومت د پاکستان شیعه ګان دي ته نه پرېږدي چې ایراني کلتور(یا د ایران په اصطلاح) ایراني انقلاب هلته وارد کړي نو کیدای شي چې ایران د هند پوځ یا حکومت ته د پټو مرستو سر ښوررولي وي او هندي پوځ یې دغسې خطرناکې لوبې ته لمسولي وي

که د هند پوځ په دې وعدو غولېدلي وي نو ایران به له هندوانو سره دومره اخلاص و نه کړي چې ځان د هغو لپاره خوار کړي او یا خپلې پیسې ولګوي بلکې یوازې ننداري ته به یې چك چکې وهي او رقصېږي به .

٤- روس هم چې له خپلې بدې ورځې سره سره غواړي د پخواني شوروي اشنایان وپالي هغه هم پاکستان ته د ایران غوندې له افغانستان سره د ښه ګاونډیتوب پالنې له کبله په غوسه دي کیدای شي چې د پټو مرستو په تمه یې هند د پاکستان په ضد داسې ګام اخستو ته هڅولي وي

٥- یو بل احتمال چې کتونکي کلکه ګوته ورته نیسي هغه دا دي چې امریکا په نړۍ کې له ځانه پرته او په اسیا کې له اسرائیلو پرته بل اتومي ځواك نه مني او نه یې غواړي چې وي، له دې کبله یې په سر کې هند او پاکستان تر وسه وسه پورې د أتومي ټکنالوژۍ له لاس ته راوړلو نه منع کول او له دغه کار سره یې سخت حساسیت ښکاره کاوه، خو چې له دې سره سره هند او پاکستان دواړه په سیمه کې اتومي ځواکونه شول نوبې بیا د محدودیتونو تړونونه ورباندې لاسلیك کول غوښتل او ددغه مقصد لپاره یو ځل پخپله د کلنتن د حکومت د بهرنیو چارو وزیره او بیا د هغه وزارت مرستیال د سیمې دورې وکړې خو کله چې دواړه په خپلو مقصدو کې بریالي نه شول نو له هغه وروسته کیدای شي د هند حکومت یا پوځ ته یې په پټه کې د مرستې سر خوزولي وي، په دې خبره کې د امریکې یو دا مطلب کیدای شي چې دغه نوي زلمي اټومي ځواکونه (هند او پاکستان) یو په بل سره وځپي او د اسرائیلو د سترګو خار ورك کړي لکه چې عراق یې د همدغه مطلب لپاره په اورونو وسوځاوه او لاسوځوي یې!

له بله پلوه د امریکا حکومت پاکستان ته په دې هم په غوسه دي چې پاکستان په افغانستان کې د اسلامي نظام او اسلامي امارت په ځای د امریکې د خوښې یو پراخ بنسټه یا نیمچه اسلامي حکومت چې د امریکې په اصطلاح میانه رووي ولې نه جوړوي یا نه شي جوړولای ؟ که څه هم پاکستان دا ځواب ورته وایي چې افغانستان مستقل هیواد دي او مستقل حکومت لري مونږ، د خپلې خوښې خبره وربا‌ندې تپلای نه شو، مګر امریکا د پاکستان په دغه اصولي موقف قناعت نه لري او ورته په غوسه دي نو ځکه کیدای شي چې د هند په داسې کړو وړو یې ویروي او د ځینو خبرو منلو ته یې اړ بستل غواړي، خو د پاکستان حکومت د هند په مقابل کې له پر احتیاط او تدبر څخه کار اخلي او هیڅ نه غواړي چې له هند سره په یوه بله (او ډېره خطرناکه) جګړه کې ښکیل شي!

اوس د هند حکومت ته ضروري ده چې په واك شي، ځان ته ښکته او پورته ښه وګوري ټوله سیمه یوه لمبه نه کړي، که چېرته یې اتومي پر مختګ د خپلې بقا لپاره وي نو هرو مرو به له پوره احتیاط کار اخلي، د واجپايي د انتقالي حکومت او ده د هیواد ګټه به دې کې ده چې د کشمیر ستونزه له پخوانیو ژمنو او د م.م له پرېکړو سره سمه حل کړي .

د افغاني ښځو د بشري حقوقو په هکله د غربي مطبوعاتو اتهامات

دکتروس نګار - دوهمه برخه

پدې نسبت زه د یوې مسلمانې افغانې ښځې او ډاکترې په صفت دې مسئلې ته کتل او څېړل خپله ایماني وظیفه او ضرورت ګڼم، نو ځکه معاني غواړم چې تحلیل او نتیجه ګیري به مې ضرور د امریکا د محترمې میرمن سره اختلاف ولري لمړي غواړم هغه ماحول معرفي کړم چې زه پکې کار کوم . کومه شفاخانه چې زه یې اوس سر پرستي کوم په کابل کې د رابعه بلخي شفاخانې په نوم یادېږي دلته نږدې څلور سوه ښځینه پرسونل په بیلو بیلو موقفونو کې په کار مصروف دي. مریضانو ته د خدمت دپاره ټول د کار او همدا رنګه د علمي او مسلکي مهارت او تجربې د لوړولو دپاره ټول شرایط شته . ژوند او کار په اسلامي مقرراتو عیار دي، هیڅوك د اسلامي حجاب او اسلامي ژوند څخه نا راضه ندي. یوازېني ستونزه چې هم زموږ د شخصي ژوند په برخه کې او هم د کار د موثریت د زیاتوالي په برخه کې شته هغه اقتصادي او تخنیکي ستونزې دي چې زیاته برخه یې په امریکایي تعذیراتو پورې اړه لري. موږ ته اوس د پخوا نه زیات د ژوند او کارکولو امنیت تامین دي. د لوی خدای «ج» په فضل هغه وخت هېر شوي چې د ښځو په عزت به تیری کېده او یا دا چې ځنې ښځو به د خپل عزت نه د دفاع په خاطر ځانونه قرباني کول. پخوا به کله داسې واقعات د حقوق بشر مدافعانو غوږ ته هم رسېدل چې ښځې د کابل د مکروریان د لوړ منزله تعمیر د څلورم پوړ نه ځان غورزاوه او یا ځینو ښځو په کنړ کې خپل ځانونه دریاب ته حواله کړل اوس د غلا، چور و چپاول او په ناموس او عزت باندې تیري کونکي هره ورځ د اسلامي شریعت د مجازاتو سره مخامخ کېږي او دا پېښې اوس په کابل کې دومره کمې شویدي چې حتی اوس د خلکو د یاده وځي.

زموږ د هیواد اقتصادي ستونزې تر ډېره حده په پخوانیو رژیمونو پورې اړه لري ځکه یو خوا مادي او تخنیکي بنیاد د جنګ له امله وران شوي او له بله خوا دولتي اداره هم ګډه وډه شوي ده ددې ټولو کارونو د سمبالتیا دپاره وخت او اقتصادي امکاناتو ته ضرورت دي که د ښځو د تعلیم او یا په مجموع کې د تعلیم خبره وي اسلام دا تعلیم فرض کړي او په دواړو یعنې ښځه او نر باندې فرض دي، د تعلیم، دپاره په اسلامي چوکاټ کې د امکاناتو برابرول هم وخت او اقتصادي امکاناتو ته ضرورت لري مکتبونه، مدرسې، کورونه، شفاخانې ، کارخانې او هر څه د جګړې له امله په کنډوالو بدلې شوي او په پاتې کنډوالو د غلو پاچاهي هم تازه تېره شویده . خو امریکائیان دا وضعیت کله له نږدې درك کولای شي دوي حقوق بشر او د ښځو ازادي لکه د امریکا په څېر غواړي د امریکایي ازادیو کټ مټ منل هم موږ ته د منلو وړ ندي ځکه چې دا ازادي په اسلامي چوکاټ کې نده او موږ یې غووره نشو ګڼلی د ښځو امریکایي ازادي زیات اجتماعي او طبي امراض هم لري د مثال په توګه د ایډز لا علاجه مرض هم ددي ازادي یوه تحفه ده .

د کلنتن مالدېنې ته د یوې مسلماني افغاني میرمن په توګه زما مشوره دا ده چې لږ ځېل سال ته هم وګوري د امریکا مطبوعات دا خبره هم نه پټوي چې ستاسو د ژوند ملګري د امریکا جمهور رئیس کلنتن د زنا په تور متهم دي مسلمانه ښځه د زنا کار خاوند سره نکاح فسخ کوي او هغه د اصلاح دپاره شرعي محکمې ته سپاري موږ پدې کې د جامعې خیر وینو د همدې شرعي اخلاقو په برکت زموږ ژوند ښه او خوشحاله تېرېږي کورنۍ د جامعې اساس دي او یوازې په اسلامي طریقه ژوند کول د کورنۍ د ثبات او خوشبختۍ ضمانت کولای شي د جامعې خوشبختي د کورنۍ په خوشبختۍ پورې اړه لري دا چې تاسې امریکائیان څرنګه ژوند کړئ او څه غواړئ هغه په تاسو پورې اړه لري خو حد اقل دا فکر مکوئ چې موږ ناپوهه جاهلان یو او هر څه باید ستاسې نه زده کړو، زموږ سره د اسلام رڼا شته او دا رڼا حقیقي او ابدي ده . د دنیا ټول علمي او تخنیکي بریالیتوبونه او ترقي د اسلامي تعلیم او پاك قرآن د ښوونو زیږنده ده زموږ د ټولو مشکلاتو او ستونزو حل په قران پاك او اسلامي تعلیماتو کې شته زموږ ستونزې که په کورنۍ کې دي او که په جامعه کې دا د اسلام کمبود نه بلکه د هغو مسلمانانو کمبود او نیمګړتیاوې دي چې اسلام یې پوره ندي تطبیق کړي زه خپله خبره او صحبت د امریکا ټولو ښځو او خاصتاً د صدر کلنتن مالدېنې ښاغلې هیلري ته د پاك قرآن ددې مبارك آیت په تذکر باندې ختموم چې کیدای شي د افغانستان په نسبت د امریکا د تعلقاتو د عیارولو او متقابلاً ګټورو ښو علایقو د جوړولو دپاره یو غوره درس او تعلیم وي :

الله تعالی فرمایي : ان الدین عند ...

ترجمه : په تحقیق سره د الله په نزد غوره او بهتر دین د اسلام دین دي . او بل ځای ارشاد کوي : و من یبتغ غیر الاسلام ... ترجمه : چا چه له اسلام نه سوا بل دین وغوښت هغه به هیڅ کله تري قبول نشي او دا سړي به په آخرت کې له زیان کارانو څخه وي.

پاي

نګرشي کوتاهي

در حاشیه بحران کنونی هند و پاکستان

فیض الله «محتاج»

در سال ۱۹٤۷ در اثر رشادت و مبارزات هدفمند ملت مسلمان هند کشوري بنام پاکستان از پیکر هند تجزیه گردیده و در جغرافیاي سیاسي جهان عرض اندام نمود. اما این کشور بنا بر انگیزه هاي متعدد نتوانست جغرافیاي سیاسي خود را بطور متحد و متشکل نگهدارد. همان بود که در سال ۱۹۷۱ در بخش شرقي پاکستان شورش و اختلاف عمیق بوجود آمده و بعد از جنگهاي خونین منتج به تجزیه بنگلادیش گردید.

با وجود تأسیس و ایجاد دو کشور مسلمان بنام بنگلادیش و پاکستان ، شصت ملیون مسلمان در کشور هند تحت قیمومیت هند باقي مانده ضمناً ایالت کشمیر با داشتن پانزده ملیون نفوس در زمره ۲۷ ایالت مربوط هند باقي ماند. از همین سبب کشور پاکستان و هند بخاطر مسئله کشمیر در گیر اختلافات و مشکلات، متعدد بوده و تا هنوز چندین مراتبه بخاطر مسئله کشمیر، درگیر اختلافات و جنگ گرم شده اند. ولي هیچکدام نتوانست، در راستاي حصول اهداف خود موفق شوند.

اما صداي خشم و عصیان همیشه از هر **دو طرف مرز بلند شده، و مواجه با جنگ سرد بوده اند، نزدیك بودن کشور پاکستان در زمان جنگ سرد به امریکا و وابستگي هند به اتحاد جماهیر اشتراکیه شوروي متوفي از نگاه اقتصادي و نظامي در گذشته ها مبني بر همین انگیزه بوده است. هم اکنون اردوي هند متکي به تسلیحات و تجهیزات ساخت شوروي بوده و کمپني هاي اسلحه سازي هندي به شیوه روسي مصروف طرح تولید و دیزاین اند.**

رقابت هاي نظامي و سیاسي بین هند و کشور اسلامي پاکستان در انحصار طرح، تولید و باز سازي اسلحه تاکتیکي نبوده و سال گذشته هر دو کشور منحیث، قدرتهاي اتمي موفق به آزمایش سلاح هاي اتومي خود شدند. اما اختلافات بین کشور هند، و کشور اسلامي پاکستان وقتي تشدید یافت که از دو ماه قبل بدین سو پارلمان هند به مشکلات سیاسي مواجه بوده، در این مدت که واجپاي صدراعظم هند از جانب پارلمان سلب اعتماد و صلاحیت شده است، با وجود تلاش فراوان حزب کانگرس نتوانست بدیل واجپاي را به پارلمان معرفي نماید. بیوه راجیوگاندي بعد از تقلا و تلاش فراوان نتوانست موفق به اخذ راي گردیده، و کشور هند را از بحران کنوني نجات دهد . لذا یکي از انگیزه هاي توصل به تشنج در کشمیر و منطقه «کارگیل» توسط اردوي هند، بخاطر آنست که براي افکار عوام ذهنیت بدهد که کشور و حکومت هند در قبال مسئله کشمیر بي تفاوت نبوده و ایالت کشمیر که در آن پانزده ملیون مسلمان **سکونت دارند ، جزء جدایي ناپذیر هند میباشد.**

اما کشور هندوستان نه تنها در ایالت کشمیر به مشکلات و بحران سیاسي مواجه است، بلکه هشتاد ملیون مسلمانیکه در کشور هند زندگي دارند، خواهان استقلال سیاسي خود بوده، جریان خشونت هاي چند سال گذشته دال بر مدعاي ماست .

علي اي حال : حقیقت اینست که مسلمانان کشمیري، هیچگاهي از مبارزات عادلانه خود انکار نتموده و خواهان حصول استقلال سیاسي خود اند. موضوع کشمیر یکي از مشکلات جدي جهان اسلام بوده، اما طوریکه لازم بود جامعه اسلامي در قبال مسایل مسلمانان هند موضع گیري واحد و مؤثر نداشت .

از همین سبب مسلمانان کشمیري با تأسیس اردوي پارتیزاني، با هندو هاي غاصب به مبارزه مسلحانه مبادرت ورزیده و تا هنوز در سنگر گرم دفاع از آرمان و عقاید مقدس اسلامي خویش قرار دارند. لذا اردوي هند بتاریخ ۱٤۲۰/۲/۱۰ با همکاري قواي هوایي خویش حملات وحشیانه را بالاي مراکز مبارزین مسلمان کشمیري آغاز نموده و فرار ادعاي رسانه ها تا هنوز ۱۵۰ تن مجاهدین کشمیري به شهادت رسیده و چهار فروند هوا پیماي اردوي هند توسط مبارزین و قواي دافع هوا کشور اسلامي پاکستان سقوط داده شده اند. در واکنش به همین موضوع کشور اسلامي پاکستان عملیات قواي هند را در منطقه کارگیل بر خلاف نورم ها و میثاقهاي دولتین و بین المللي ، دانست، ضمناً سفر بري قواي پیاده هند را به کشمیر بمثابه خطر جدي بر علیه تمامیت ارضي خود تلقي نموده است .

اما یك روز بعد تر قواي **هوایي هند در ترکیب گروپهاي قوي و تعرضي در مرز هاي منتهي به پاکستان به گشت و تعقیب مجاهدین مسلمان مبادرت ورزیده که منجر به سقوط سه فروند هوا پیما میگ ۲۷ و یك فروند هلیکوپتر نظامي هند گردید.**

تشدد اختلاف و ایجاد تنش در آسیا وقتي متموج میشود که اروپاي شرقي مواجه با بحران نظامي و سیاسي بوده و دو ابر قدرت که بطور سنتي حامي و طرفدار هند و پاکستان بودند بخاطر مسئله کوسووا هم اکنون بل مشکلات و تنش هاي تازه مواجه بوده،اگر تنش هاي موجود في مابین هند و پاکستان گسترده شود ، اسیا با بحران **سیاسي، اقتصادي و نظامي جدید مواجه گشته و این جنگ در ماهیت برنده واقعي ندارد.**

به جز اینکه بازار سیاه اسلحه فروشي ابر قدرتها گرم گردیده و توسط سلاحهاي مخرب و کشنده استکبار مردمان محروم و گرسنه آسیا تهدید شود، و ثبات سیاسي و اقتصادي نسبي موجود، موقف خود را به بحران و تشنج بدهد، سرد دیگر را در قبال ندارد. زیرا هم اکنون قواي هوایي هند با عدم موفقیت و کارایي مؤثر مواجه شده مقامات نظامي هند مجبور اند جهت حفظ تعادل و **رقابت با قواي هوایي پاکستان دست بدامن امریکا زده و هوا پیما هایي را تدارك و تورید نمایند که قدرت محاربوي شان موازي با قدرت محاربوي طیارات ایف شانزده پاکستان باشد. لذا جهت اجتناب از جنگ و مقابله قدرتها، نزدیکترین راه شناخت استقلال سیاسي منطقه کشمیر، بحیث یك کشور آزاد و بیطرف بوده و مقامات متعصب هند باید به مسلمانان کشمیري حق آنرا بدهند تا خود سرنوشت خویش بدست بگیرند.**

شعر د حمید بابا په نظر کښې

الفت

شعر نه دي دا خوناب د زخمي زړه دي
یا دستي وتلي دم له خولي د مړه دي
یا نغمه وینم بسمل مرغه د خولي ده
یا مجنون ته معما ښکلي لیلي ده
یا د وینو اباسیندو هلي موج دي
یا له ښاره د حیرت وتلي فوج دي

دلته که څه هم حمید بابا په ظاهره کي وایي چي شعر نه دي مگر مطلب یې دا دي چي همدغه شي شعر دي او په دي دري بیتوکي دي خپله نظر په د شعر په باب کي پوره ښکاره کوي که څوك دا بیتونه په دقت وگوري هغه پوهیږي چي حمید شعر ته څه وایي او شعر دده په نظر کي څنگه ښکاره شوي دي (ددي بیتو مورِ د به خاص وي مگر حکم یې عام دي)دي وایي شعر یا د زخمي زړه خوناب دي یا هغه وروستي دم دي چي له صورت او کالبوت څخه په ډیر حسرت وتلي وي او ډیري ارزو گاني یې پري ایښي وي یا د عشق د نیم بسمل مرغه یا مجنون ته د لیلي معما ده یا د وینو د جوش موج یا یو عالم حیرت دي چي دي ورته فوج وایي او د حیرت له ښاره یې را وتلي گڼي .

د حمید زیات مهارت په دي کي دي چي د شعر په تعریف کي یو عالم تردد ښکاره کوي او سړي پوهوي چي شعر پیژندل څه اسانه کار نه دي دا آسانه خبره ده چي سړي ووایي شعر د انسان بدیعي احساسات خوځوي مگر که پوښتنه وشي چي څنگه او په څه راز او شعر دومره اغیزه له کومه کړه ؟ نو خبره ډیره گرانیږي او د حمید غونډي یو موشگاف بویه چي دا ځواب ووایي او د شعر په معرفي کي د شعر د تاثیر علت او سبب هم بیان کړي .

د حمید بابا دغه تعریف چي د شعر دپاره شاعرانه تعریف دي موږ دي ته ملتفت کوي چي شعر یو درد او احساس ، یو د عشق او جمال پیغام، د یوه هیجان او اعجاب او تحیر موج او فوج دي چي په الفاظو او کلماتو کي یې گورو .

غزل

غلام محي الدين

هر کـه در پیش تو بر خـاك بمـالد رخـسـار
ملك کـونین مـسـخـر بود ش لیل و نهـار
دگـران گـر بقـدم بر سـر کـوي تو روند
من بسر بر سـر کـوي تو روم مـجنون وار
سلطنت غـیـر تو کس را نـسـزد
هـیـچ دیـار نـنـالـد ز تـو در هـیـچ دیـار
هر کـه شـد عـاشق دیدار تو او نشناسـد
دوزخ از جنت و شـادي ز غم ومي ز خـمـار
در همـه مـذهب و ملت مي عـشـقت حـلال
زانکه بي او نتـوان دید خـدارا دیدار

حامي شریعت

حبیب الله «بشارتي»

در جهان این یك حقیقت بوده است
هر کـسي را یك طریقت بوده است
در جوار رحمت حق آنکس است
حامي ي دین و شریعت بوده است
در میان جمله ادیان جهان
دین اسلام را فضیلت بوده است
کي سعادت بوده در شرو نفاق
دست حق فوق جمعیت بوده است
گر نفاق آید تباهي میشود
پس نفاق هم یك جریحت بوده است
شاه فیروز، رعیت پرور است
پس بقاي شاه رعیت بوده است
دین دیگر نیست مقبول در جهان
دین مقبولم شریعت بوده است

تربت من

جهید

مقصد من ، مطلب من، مقتضاي من تویي
مأمن من، میهن من، مدعاي من تویي
روز و شب کوشم برِ آبادي و عمران تو
عزت من، شوکت من، جانفزاي من تویي
هرکه با تو کرد خیانت، لا جرم شد بي وقار
گلشن من، مدفن من، خوش لقاي من تویي
دشمن و خصم تو گشته، شرمسار اندر جهان
مسکن من، روزن من همنواي من تویي
سر زمین راد مردان شهیر و قهرمان
دلبر من ، افسر من خوشنماي من تویي
زیستي با اوج صولت سر بلند و با شکوه
کشور من ، اختر من، آشناي من تویي
زخم ها اندر جگر داریم ز تیر دشمنان
تربت من، راحت من، مومیاي من تویي
زد رقم خامه «جهید» از قطره ي خون شهید
خاور من، باختر من، کیمیاي من تویي

ته راته وایه!

شادمن

هغه نازك او ډېر ځانده شپونکي
چي نوښتونه یې شپیلي غږول
ته راته وایه سپوږمي
د نوښتونو پاچا چاوژلي ؟
آه! د نوښت نغمه یې چا ماته کړه؟
ته له ما څه پوښتي په درد کي ورکه
زه له تا لیري یوه سپینه سپوږمي
زما په مخکي دا انځور نه وینې ؟
چي د شپونکي له هغه تاندو او وریمښتو وینو
یو ښه تصویر ځلوي
دا یوه بله خوا نازکي وړانگي
د نوښتگري شپیلي اوښکي څاڅي
هغه نازك او ډېر ځانده شپونکي
که زه رښتیا ووایم
داسي نه ما هم څوك شهیده نه کړي
بیا به د هغه نوښتگر شپونکي تصویر هم مات شي
بیا به د هغي نوښتگري شپیلي اوښکي نه وي
که زه رښتیا ووایم
هغه یو چا وژلي
چي دا د غرونو لیوان
او د ځنگله ټول د هشتناك حیوانان
ترینه پناه غواړي
او ډېر په کرکه، کرکه ترینه پناه غواړي

د شعر او ادب پاڼې

عشق خدا

«گیلاني»

ما به جنت از براي کار دیگر میرویم
ني تفریح کردن طوبٰي و کوثر میرویم
مقصد ما حسن یوسف باشد اندر شهر مصر
ما نه در مصر از براي قند و شکر میرویم
اندران خلوت که دروي ره نیابد جبرئیل
بي سر و پاما به پیش دوست اکثر میرویم
میگریزند زاهدان خشك از تر دامني
ما بر خورشید خود با دامن تر میرویم
پارسا گوید بکوي ما بیا شو نام نیك
ما در آن کوچه، خدا داناست کمتر میرویم
ما ز دنیا کو قلندر خانه، عشق خداست
سوي عقبي عاشق و مست و قلندر میرویم

قلندر شه

عبدالرحیم هرتل

سحر باده! د اشنا په کوڅه ورشه
زما د پاره یکي وگرځه کوتر شه
لوي و کم چي وي ټول ووینه په سترگو
په احوال سره د هر یوه خبر شه
هر یوه چي زما له حاله پوښتیدلي
په ډېرا ورته په اوښکو کي احمر شه
که خبري زما دپاره درته وکړي
مخ را کوز کړه زما ولوري ته جیر شه
د نسیم په رپا دي ښه نشي رهیسه
د دلدار په لور په خیله قلندر شه

د یوه سیاسي نظام د قوام او دوام شرایط څه دي؟

یار محمد «همتوال»

تر هر څه له مخه باید دا خبره وکړو چي هر سیاسي نظام چي د ټولني د ضروریاتو په اساس را منځ ته شوي وي د هغه د بقا او دوام چانس تر هغه سیاسي نظام ډېر زیات دي چي د بهرنیو قوتونو د خواست پر بنسټ پر یوه ټولنه تحمیل شوي وي ځکه دا ډول سیاسي نظامونه په خلکو کي ریښي نلري او په ډېر کوچني حرکت سره خپل هر څه له لاسه ورکوي او د تاریخ کندي ته سپارل کیږي .

د حکومتونو د دوام او قوام محك خلك دي کـه خلك د یو سیاسي نظام څخه ملاتړ وکړي نو دا به بلکل یقیني خبره وي چي د داسي نظام د دوام چانس سل په سلو کي موجود دي او خپل سیاسي ژوند ته تر هغه وخته دوام ورکولاي شي تر څو یې خلك غواړي او ملاتړ یې کوي .

خو ددي تر څنگ باید متوجه اوسو چي د سیاسي نظام بقا هغه وخت ډېره ښه ثابیتیدلاي شي چي د سیاستمدارانو او خلکو تر منځ همیشني ارتباط موجود او سیاسي کسان د ملت او خلگو په اړتیا ځان وپوهوي او د هغوي د خوښي سره سم گام پورته کړي . پوهان په دي عقیده دي چي سیاستمداران باید د خلگو په زړونو حکومت وکړي . چي ددي مقولي څخه مطلب زموږ پورتني خبره ده چي سیاستمداران باید د خلکو د اکثریت ارادي تمثیلوونکي اوسي نه دا چي د خپلي خوښي مطابق هر څه چي یې زړه غواړي هغه وکړي .

موږ په خپل سترگو ولیده د کمونستانو نظام چي د خلگو په اراده منځ ته نه و راغلي او د ملت په منځ کي یې ریښي نه درلودي ، د ملت د غوښتونو ممثل نه و په ډېر کم وخت کي سره له دي چي د جهان یو ستر طاقت د هغه ملاتړي هم ؤ او د خپلو عسکرو وسلو او پیسو په وسیله یې د هغه ننگه کوله له منځه ولاړ او د ابد لپاره د تاریخ موزیم ته وسپارل شو .

دا ځرگند مثال ددي حقیقت څخه پرده پورته کوي چي د نظامونو د قوام او دوام اصلي عنصرو لس دي او باید دي عنصر ته پوره پاملرنه وشي.

هغه نظام به ډېر بریالي وي چي لومړي قدم کي د ولس د غوښتنو ترجمان وي او په دوهم قدم کي د خلکو سره په همیشني ارتباط کي او-وسي.

د طالبانو اسلامي تحریك چي په لومړي سر کي د ملت د غوښتني او د جهاد د ثمرو د ساتني په خاطر سر راپورته کړ او ولس د هغوي ملاتړ وکړ او په ډېر کم وخت کي یې داسي مهمي لاسته راوړني درلودلي چي اوس د لوي خداي«ج» په فضل او کرم تقریباً د ټول افغانستان واك ددې تحریك په لاس کي دي او عملاً یې په افغانستان کي د یو واحد متمرکز او قوي حکومت بنسټ چي د افغانستان د اکثریت خلکو غوښتنه ده د افغانستان اسلامي امات تر نامه لاندي ایښي او په عملي توگه هم د افغان مجاهد ولس د سوکالي او د وطن د ابادي په کار لگیا ده .

ځرنگه چي د پردو گوډاگیو رژیمونو په تیرو څو کلونو کي د افغانستان هر څه لوټ او تالان کړي دي چي د هغه په ترځ کي د افغانستان د سیاسي نظام شیرازه هم په کلي توگه له منځه تللي او اوس اسلامي امارت ته په دي برخه کي ډېر زیات کارونه مخي ته پراته دي چي باید د اسلامي نظام د جوړښت او دوام په خاطر یې سر ته ورسوي.

کله چي موږ وایو چي سیاستمداران باید له خلگو سره په دایمي ارتباط کي وي نو له دي خبري نه مقصد دا دي چي هر مسؤول باید د خپلي اداري او منطقي له پرسونل او خلکو سره او یا د هر کلي او مسجد د مشر او ملا امام په وسیله دي له عام ولس سره په ارتباط کي وي او د خلکو له احوال او غوښتنو څخه دي باخبره وي. او خپل اهداف او مرامونه دي د همدي کسانو په وسیله عامه خلگو ته ورسوي.

نو په دي لحاظ د حکومت د زنځیر لومړي کړي ولسوال یا علاقه دار دي چي مستقیماً له خلکو سره په ارتباط کي دي په دي اساس د ولسوالیو مسوولین باید هغه څوك وي چي د نظام څخه آگاهانه دفاع کوي او د هغه پر اهدافو باندي ځان په کامله توگه پوهولي وي او په ډېره امانت داري سره هغه ارتباطي دنده د اسلامي امارت د لوړو مقاماتو او خلکو تر منځ یې لري سرته ورسوي او هم ولس ته د هغوي د حقوقو د مدافع په حیث ځان ور وپیژني ځکه هر حاکم د خپل رعیت شپون او د هغوي د حقوقو ساتنه دده فریضه ده .

زموږ ټولنه چي د یو اوږده سیاسي بحران په نتیجه کي زیاته زیانمنه شوي ده قانوني نظم او د قانون حکم روایي ته سخت ضرورت احساسیږي ځکه ، استعماري رژیمونو د افغاني ټولني قانوني نظم له منځ وړی او د زور واکي شوم میراث یې موږ ته پریښي دي.

د اسلامي امارت د مسؤولینو ډېر ستر او عمده کار به داوي چي ټوله د قانون تر نظم لاندي راوړي او قانون د فردي او اجتماعي ژوند په ټولو اړخونو باندي حکمراوایي وکړي او هر څوك د قانون او اصولو نظم تر سیوري لاندي د راحت او مصؤنیت احساس وکړي او د آرام سا واخلي.

هر سیاسي نظام چي د زور واکي څخه پرته د قانون او مقرراتو پر بنسټ ولاړ وي هغه نظام په حقیقت کي د خلکو د ارادي تمثیلوونکي دي نو کله چي په یو نظام کي د خلکو د ارادي تمثل شوي وي د هغه نظام قوام او دوام د ډېر وخت لپاره یقیني خبره ده د خلکو د ارادي د تمثیل څخه مطلب دا دي چي نظام باید د ټولني د اکثریت د غوښتنو او ضروریاتو سره په مطابقت کي وي اوس چي الحمد لله په افغانستان کي د اکثریت د خوښي نظام د اسلامي امارت تر لارښووني لاندي منځ ته راغلي دي او په ټول هیواد کي یې امنیت تأمین دي، ددي وخت را رسیدلي وي چي باید ټولنه او د ټولني هر فرد ځان د قانون چوکات ته واچوي او خپل صلاحیت او مسؤولیت، حقوق او وجایب د قانون په چوکات کي تثبیت کړي د خپل سریو او گډوډیو څخه ځانونه وژغوري د قانون تر سیوري لاندي ژوند کول انسان له اشتباهاتو څخه لري ساتي هر څومره چي په یوه نظام کي اشتباهات کمیږي هغومره د نظام د عمر د زیاتوالي او قوام دپاره مطمئین شرایط را منځ ته کیږي.

در دارالایتام علاوالدین ۵۰۰ تن از ...

پرورش ، تربیه و آموزش توسط استادان مجرب اناث و ذکور قرار دارند.

از محترمه حنیفه «احمدي» مدیره، لیلیه اناث دار الایتام علاو الدین پرسیدم که در دارالایتام علاو الدین به چه تعداد اطفال در چند کتگوري تحت پرورش و آموزش قرار دارند . موصوفه در جواب چنین گفتند : در دارالایتام علاوالدین به تعداد ۵۰۰ تن اطفال اناث در بین سنین یك الي سیزده ساله بسر مي برند که اطفال یکساله الي پنج ساله در تعمیر کودکستان تحت مراقبت و پرورش قرار دارند و اطفال شش الي سیزده ساله روزانه در پروگرام هاي معین در مشوف مختلف مصروف آموزش علوم دیني عقاید، فقه ، حفظ قرآن کریم و آموزش کتب درسي مانند دري، ریاضي، خط و اداي نماز هاي پنجگانه مي باشند. تمامي اطفال بین سنین شش الي سیزده سال شامل مدرسه و دارالحفاظ مي باشند همچنان براي شاگردان اناث از جانب مجرب ترین استادان خیاطي، گلدوزي، سوزن دوزي، قالین بافي و بافت نیز روزانه آموزش میگردند.

در جمله برنامه هاي آموزشي برنامه تفریحي و سپورتي نیز جا دارد.

اجتماع بزرگ تربيتي علماي كرام، مسؤولين امارت ...

نظامي و ساير بخش ها نصيب مردم ما گرديده قرار داده و اظهار اميدواري گرديد كه اهداف والاي امارت اسلامي در حال توسعه و گسترش كامل قرار داشته و دير نخواهد بود كه مردم كشور ما بر همه مشكلات و نارساي هايي كه از رژيم هاي قبلي بر زنده گي مردم ما سايه افگنده بود فايق آمده و از مزاياي انقلاب اسلامي كه با بهاي خون مليونها شهيد معلول، معيوب و مهاجر در افغانستان بنا يافته است بهره مند گردند.

همچنان صحبت كننده گان از پاليسي امارت اسلامي افغانستان يك بار ديگر حمايت قاطع شانرا اعلام داشته و تاكيد بعمل آوردند كه يگانه راه حل مشكلات و بيرون رفت از آن تعقيب پاليسي امارت اسلامي افغانستان ميباشد، و ما متيقن هستيم كه با پيروي كامل آن بر همه مشكلات و پرابلم ها كامياب و سر بلند بدر آئيم.

همچنان نتايج اين اجتماع بزرگ تاريخي كه بيش از ده هزار تن از علماي جيد كشور مسؤولين و طلباي كرام دور هم جمع شده بودند بعد از آنكه محترم قاري فيض محمد مهتمم مدرسه جهادي مركزي كندهار صحبت پر محتوا نمود توسط محترم شيخ الحديث مفتي نظام الدين سام زايي عالم جيد و برجسته ارزيابي گرديده و گفته شد كه نتايج اين اجتماع تربيتي گام مثبت تاريخي در جهت تحقق و عملي شدن اهداف جهاد و خواسته هاي بر حق مردم ما بوده و اطمينان داريم كه در پرتو آن سعادت و بهروزي دنيوي و اخروي نصيب ملت مجاهد افغانستان گردد.

سپس پيام عاليقدر امير المؤمنين كه بهمين مناسبت ارسال گرديده بود توسط محترم ملا امير خان متقي سرپرست وزارت اطلاعات و كلتور قرائت گرديد. اين اجتماع با قرائت دعائيه توسط محترم شيخ الحديث الحاج مولوي عبدالعلي ديوبندي عالم جيد كشور حوالي ساعت ۱۱ شب گذشته خاتمه يافت .

د هند يوه هليكوپتر هم راوغورځول شوه

نوي ډيلي : د هند پوځ پرون ويل چي په كشمير كي يې يوه هليكوپتر هم په ستنګر ترغندي ويشتل شوي اورانسكور كړاي شوي ده هند وايي د هليكوپتر څلور سپرلي تولي وژل شوي دي ورمه ورځ د هند دوه جټ الوتكي رانسكوري كړاي شوي دي دغو الوتكو د پاكستان په فضايي قلمرو تيري كړي وو پاكستان خبريالان هغه ځاي ته بوتلل چي الوتكي پكي راغورځيدلي وي .

بل كلنتن از مذاكرات صلح شرق ميانه نظارت خواهد كرد

گزارش مطبوعات سوريه بل كلنتن رئيس جمهور ايالات متحده امريكا ديروز با حافظ الاسد رئيس جمهور سوريه از طريق تيلفون صحبت نمود.

درين صحبت تيلفوني بل كلنتن به حافظ الاسد خاطر نشان كرده است كه شخصاً از آغاز مجدد مذاكرات صلح شرق ميانه نظارت خواهد كرد . در واشنگتن نطاق قصر سفيد تائيد كرد بل كلنتن كه در حال گذراندن رخصتي تفريحي اش در ايالت فلوريداي آنكشور ميباشد با حافظ الاسد تيلفون كرده است اما وي به خبرنگاران گفت كه جزئيات مذاكرات تيلفوني رؤسا جمهوري ايالات متحده امريكا و وسوريه به نشر نخواهد رسيد .

بگزارش مطبوعات سوريه بل كلنتن درين صحبت تيلفوني علاوه بر نظارت از روند صلح شرق ميانه تمايل خود را به مذاكرات سوريه و اسرائيل به سر ارتفاعات جولان نيز ابراز كرده است .

درين صحبت تيلفوني حافظ الاسد نيز جانبداري خود را از آغاز مذاكرات با اسرائيل نشان داده است .

استفاده از تيلفون موبايل خطر رشد تومور مغزي را در قبال دارد

بر اساس نتايج دو بررسي علمي استفاده از تيلفونهاي موبايل احتمالاً باعث رشد غده يا تومور در مغز ميشود. اين تحقيقات كه به سفارش يك پروگرام تلويزيوني بي بي سي بنام پانورا مال انجام شده است نشان ميدهد احتمالاً رشد تومور مغزي در ميان كسانيكه از تيلفونهاي همراه با موبايل استفاده ميكنند نسبت به كسانيكه استفاده ندارند دو نيم برابر بيشتر است و خطر آن در مورد اطفال حتي بيش از اين است زيرا سلول هاي مغزي اطفال هنوز در حال رشد است . توليد كننده گان تيلفون موبايل مطمئن اند سندي را دال بر عدم رابطه ميان استفاده از تيلفون موبايل و رشد سلول مغزي ارائه دارند سال گذشته فروش تيلفونهاي موبايل پنجاه فيصد افزايش يافت . اروپاي غربي از نظر تعداد فروش تيلفون هاي همراه در درجه اول قرار دارد و امريكا و جاپان به ترتيب دوم و سوم هستند.

د لايزر شعاع پواسطه به د سترګو د حالت په هكله معلومات ترلاسه شي

په امريكا كي يوه څيړونكي يوه داسي دستگاه اختراع كړيده چي د هغه نه په استفادي سره او د جراحي له عمل پرته كولي شي د سترګو د حالت په باب مهم اطلاعات تر لاسه كړي دغه امريكايي څيړونكي د ناساد د سازمان د تاكتيك د رامنځته كولو ډيره ښه جايزه ګټلي ده .

دغه څيړونكي څو كاله كيږي چي د بيولوژيكي از مايشتونو په برخه كي د امريكا د فضايي سازمان سره همكاري لر ي. دغه څيړونكي د خپلو څو تنو نورو همكارانو په ملګرتيا داسي طرحي اختراع كړيدي چي د لايزر له وړانګونه په استفادي او د جراحي له عمل پرته كولي شي د سترګو په باب مهم اطلاعات راټول كړي دغه اطلاعات د درمل جوړوني د شركتونو د استفادي وړ ګرځي چي د سترګو د ناروغيو د درملني او علاج له پاره ډيرښه درمل برابر كړي .

د پاركنسون په ناروغي اخته كسانو ته زيري

په پاركنسون يا د بدن د غړو د لړزيدو په ناروغي د اخته ناروغانو له مغزو سرهٔ د ورميږ د برخي د ګڼو سلولونو پيوند كيداي شي په دغو افرادو كي د ناروغي له كنترولولو سره مرسته وكړي .

اسپانوي څيړونكي وايي په لابراتواري څارويو كي له دغو لارو چارو نه د كار اخيستني نتيجي دومره له هيلو ډكي دي چي په راتلونكي مياشت كي به په انسان باندي ازمايښت تر سره شي.

د بدن د غړو د لړزيدو په ناروغي اخته كسان د خپلو حركاتو په كنترول كي له ستونزو سره مخامخ دي. دغه ناروغي په دي خاطر پيدا كيږي چي د ماغزو د پيوند يوه برخه د يوه مغزي اسانه پيغام توليد بندوي .

د ملي ګارد د مجاهدينو ...

همدا اوس د يوه باب مسجد د جوړولو په كار كي چي تقريباً ددري سوه كسانو د عبادت ځاي لري په نه ستړي كيدونكي روحيه په كار لګيا دي همدارنګه په ملي ګارد كي د ۲۵۰۰ په شاوخوا كښي مثمر ، غير مثمر او زينتي وني نهال شوي دي له بلي خوا د ملي ګارد د بيا ودانولو لپاره د تعميراتو رياست خپله يوه پروژه مكلفه كري چي فعلاً يې هم كار دوام لري او ۵۰ فيصده جسماني كارونه ي كرام طالبان په وړيا توګه او په خپله خوښه پر مخ بيايي البته بايد ووايو چي پدي پروژه كسي ساختماني چاري كاناليزاسيون د قراوولونو جوړول ،د وران شويو د بوارونو اعمار د بريښنا د اساسي شبكو فعالول او د سړكونو قيرول شامل دي .

د جوزجان ولايت د ...

دي او د جوزجان ولايت امنيه قوماندانې شپه او ورځ د خلكو په خدمت كښي خپله مقدسه وظيفه تر سره كوي او د مظلوم ولس په خدمت كښي دي.

پوښتنه : د فاسدو مليشو د حملو د شندولو په لاره كي تاسي څه تدابير تر لاس لاندي لدي او د شعبياتو لكه د جنايي او ترافيكي فعاليتونو په هكله بو څه رنا واچوي ؟

ځواب : د فاسدو مليشو ټولي هڅي شنډي شوي دي او زموږ ځواكونه په ښه ډول خپله مقدسه وظيفه تر سره كوي او ترسره كړي يې ده لكه د جنايي شعبه چي شپه او ورځ د دښمنانو د پلانونه رسوا كوي او ناوړه كسان د قانون منګولو ته سپاري او شرعي جزا وركوي او دا هم ياد آور شو چي د ترافيكو مسؤولين هم شپه او ورځ د خلكو په خدمت كي دي او خپله قانوني وظيفه بي سرته رسولي ده او عملاً اجراات كوي

از درك عشر و زكات ...

خويش ميباشند مطالب فوق را محترم مولوي عبدالكريم رئيس حج و اوقاف ولايت فارياب به خبرنگار اعزامي شريعت معلومات داده و چنين علاوه نمودند :

بنا بر هدايات مقامات صالحه پول جمع آوري زكات از مركز و ولسوالي اندخوي، دولت اباد ، شيرين تگاب، قيصار، المار، پشتونكوت به اثر سعي و تلاش خستگي ناپذير مامورين اين رياست سر جمع مبلغ ۸۰۲۱۵۰۰۰۰ برويت تعرفه و اسناد دست داشته جمع آوري و به «د افغانستان بانك» ميمنه طور امانت گذاشته شده است و همچنان از ولسوالي هاي متذكره به تعداد ۳۶۷۳ رأس گوسفند و بز به زكات جمع آوري گرديده و به قيمت مجموعي مبلغ ۱۱۳۳۹۰۰۰۰ افغاني دولتي و مبلغ ۲۵۵۲۵۰۰۰۰ افغاني پول جنبشي تحت نظر هيئت در ولسوالي ها بفروش رسيده و يك قسمت آن بحساب امانت به د افغانستان بانك گذاشته شده و يك قسمت آن بمقام محترم ولايت تحويل و با به اوامر اجراات شده است .

تيم هاي واليبال ...

صورت گرفت تيم واليبال مدرسه عالي اماني برنده شناخته شد.

تماشاي اين مسابقات تعداد كثيري از علاقمندان اين سپورت اشتراك نموده بودند.

كورس آموزش هاي ...

بود ديروز خاتمه يافت.

درين كورس به تعداد بيست تن از كارمندان رياست مربوط وزارت زراعت مضامين عقايد ، كوپراتيف، كريدت بازاريابي، تبليغ و آموزش دفتر داري و محاسبه **را به مدت دو هفته آموزش ديده و كورس متذكره ديروز با موفقيت خاتمه يافت.**

اطلاعيه وزارت صحت عامه

به اطلاع عموم داكتران واجد شرايط رسانيده ميشود كه امتحان كانكور شمول پروگرام اكمال تخصص رشته هاي مختلف بتاريخ ۱٤۲۰/۲/۲۹ روز يكشنبه اخذ ميگردد .

دوكتوران علاقمند غرض ثبت نام برياست انكشاف تعليمات متداوم طبي در مركز وزارت صحت عامه مراجعه نمايند.

د مخدره موادو د ...

ګډون جوړ شو لومړي د قرآن عظيم الشان څو مبارك ايتونه ولوستل شول او وروسته د كابل د مخدره موادو د كنترول او سمون د اداري د ترينګ د برخي مسوول محترم محمد ابراهيم حسن د وركشاپ د پروګرام او وريپژندني په باره كي برخه والو ته معلومات وړاندي كړل .

وروسته د مخدره موادو پر خلاف د مبارزي د امارتي عالي كميسيون سكرتر جنرال محترم ديپلوم انجنير مير نجيب الله شمس د مخدره موادو د پيژندني او په سياسي اقتصادي او ټولنيزو برخو كي د هغوي د زيانونو او ناوړو نتيجو په باب څرګندوني وكړي . د وركشاپ په دويمه برخه كي د يو تن ديني عالم او د طب د داكترانو لخوا په طبي او ټولنيزو برخوكي د مخدره موادو د استعمال د منفي عواقبو او اغيزو په باره كي ځيني مطالب بيان كړل . د وركشاپ په پاي كي د وركشاپ د ارزوني په ترڅ كي پريكړه وشوه چي محترم ديني عالمان، د مدرسو استادان، خبريالان ليكوالان او د طب محترم داكتران دي د خپلو وسايلو او امكاناتو له پام كي نيولو سره د خطابو د مضمونونو د ليكني او په مدرسو او غونډو كي د ويناوو او خپرو اترو له لاري د مخدره موادو د استعمال د زيانونو په باب هيواد الو ته معلومات وركړي تر څو ددغي وژونكي ناروغي د خپريدو يعني د مخدره موادو د استعمال او روږدي كيدو مخه ونيول شي.

امتحانات سمستر دوم ...

جامعه تقديم نموده كه دوكتوران فارغ اين پوهنحي همين اكنون در مركز و ولايات كشور مصروف خدمت به وطن و هموطنان عزيز ميباشد.

شوراي علمي و ...

ننگرهار فعاليت دارد مطرح و فيصله بعمل آمد در صورتيكه موسسه مذكور مطابق معيار هاي علمي و اكادميكي و قانون تحصيلات عالي امارت اسلامي افغانستان كه قبلاً از سوي هيأت رهبري وزارت تحصيلات عالي به آن موسسه ابلاغ شده عيار گردد ، فارغ التحصيلان مذكور بشمول محصلان موجود كه در آينده فارغ خراهند شد جهت امتحان سريه به پوهنځي هاي مماثل معرفي و مورد ارزيابي اكاديميكي قرار گرفته و ملاحظه نتايج حاصله در مورد سند فراغت شان ابراز نظر ميگردد.

رياست شهداء و ...

گرديده است .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولايت پكتيكا خبر ميدهد مبلغ متذكره به سه صدو پنجاه و هفت فاميل شهداء و معلولين از طريق رياست شهداء و مهاجرين ولايت پكتيا در ولسواليهاي سروبي، يوسف خيل خوش آمند، حيا خيل و مناطق خير كوت و جاني خيل آنولايت توزيع گرديده است . توزيع همچو مساعدتها به ساير ولسواليهاي ولايت پكتيا ادامه دارد.

طبق يك خبر ديگر به ارزش مجموعي مبلغ هشتاد دو مليون افغاني مواد امدادي شامل آرد، روغن ، برنج، نخود و بسكيت از طريق رياست سره مياشت ولايت هرات براي يكعده مستحقين در آنولايت اخيراً توزيع و مساعدت گرديده است .

د هيواد د صنعتي ...

د هيواد د صنعتي مسالو په باب بي خبري اتري وكړي .

دواړو خواوو له يو بل سره د صنعتي مسالو په هكله چي د سيمي او د دواړو هيوادونو د خلكو په ګټه دي ګتهوري او رغنده خبري وكړي او هيله وشوه چي په دي اړه عملي اقدامات تر سره شي.

د ګډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتنى	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

تبصره

راپور سازمان عفو بين المللي بر حقايق مبتني نيست

اخيراً سازمان عفو بين المللي اعلاميه اي را به نشر سپرده و طي آن با خيلي بي انصافي جانب امارت اسلامي را به تخطي از حقوق بشرد ر ولايت باميان متهم نموده است . سازمان مذكور در حاليكه انواع اكاذيب و اتهامات را در حق امارت اسلامي افغانستان روا داشته است در رابطه به عملكرد مليشه هاي وحشي وحدتي كه تاريخ خيلي بدنام وحشت و قسي القلب را دارا ميباشد. كناره رفته و محض تذكر داده كه افراد گروه وحدت نيز حاميان طالبان را شكنجه نموده است، در حاليكه اجساد ده ها تن از مردم مسلمان شهر باميان ، مسافرين ذكور و اناث طريق باميان كابل - باميان پلخمري و حتي حجاج كرام صفحات شمال كشور كه بعد از اداي مراسم حج از كابل عازم ولايات شان بودند و با خيلي قساوت شهيد و مثله شده بودند بعد از فرار باغيان وحدتي از شهر باميان كشف و به اولياي شان سپرده شد.

سازمان عفو بين المللي كه مرجع اطلاعات آن از ابتداء تا امروز منابع رسمي مخالفين امارت اسلامي و حاميان اجنبي شان بوده، با عدول متداوم از جاده انصاف و حقايق، قداست راستاي دفاع حقيقي از حقوق بشر را كه اشرف المخلوقات است زير پا نموده عوض آنكه واقعاً فرياد هاي مظلومان جهان را به گوش انسانهاي نوع دوست برساند حاميان واقعي حقوق بشر و حافظان عزت مقام انسانيت را به گونه هاي مختلف مورد اتهام و ملامتي قرار داده و تقدس مسلك خويشرا زير پا مينمايد.

اگر سازمان عفو بين المللي واقعاً خود را بيانگر فرياد و ناله هاي مردم تحت ستم در جهان ميداند پس در همين مقطع زماني فعلي كه مليون ها تن از مردم مظلوم كوسووا، كشمير و فلسطين از جانب قوت هاي مستكبر به انواع گوناگون وحشت و شكنجه تعذيب ميگردند و از جانب حكومت سيكولر آن كشور به ترك جبري مسؤوليت هاي عقيدوي شان مجبور ميگردند، كدام فعاليت بشر دوستانه را انجام داده و يا راپور كدام جنايت جنايتكاران شناخته شده بين المللي را نشر نموده كه هر ماه و يا هفته در ميان عليه امارت اسلامي افغانستان اتهام بسته و وسايل اطلاعات جمعي جهان را در اين مورد مصروف نگهميدارد تا از اين طريق آراء و افكار جهانيان را در برابر امارت اسلامي افغانستان خدشه دار ساخته و از ارتباطات جامعه جهاني با كشور سر بلند افغانان جلوگيري نمايد، در غير آن اگر چنين نيست پس چگونه درست خواهد بود تا در رابطه به جنايات مليشه هاي وحدت كه از بدو ظهور شان تا امروز در كشتار هاي فردي و اجتماعي به انواع گوناگون به شمول زنده سوختاندن ، بواسطه تيغ هاي زهر آلود سر بريدن، در دهن توپ ها بستن و بالاي انسان هاي مظلوم رقص مرده نمودن زنان حامله را جبراً به وضع حمل آماده كردن، عزت و عفت زنان معصوم را دريدن و غيره نامدار جهان گشته اند با وجود حقيقي جنايات تا بخشودني اخير شان در باميان صرف يك ابراز نظر مينمايد تو گويي كه واقعاً مليشه هاي وحدتي صرف به نظر خشم به كدام فردي نظر كرده و ديگر هيچ گناهي ندارند ؟!!

اما بر امارت اسلامي افغانستان اتهاماتي را بسته است كه هر شنونده آگاه و حقيقت بين انگشت بدهان مي نمايد و از شنيدن بيشتر چنين هرزه گويي ها متنفرش مي سازد، زيرا به همه جهانيان مشهود و معلوم است كه پاليسي امارت اسلامي افغانستان بر اساسات دين مقدس اسلام استوار بوده و از اين صراط المستقيم به اندازه سر مو هم كج روشي را نميپذيرد، در حاليكه اساسات اسلام عزيز ريختن خون مسلمان را بر مسلمان حرام قرار داده است چگونه منطقي خواهد بود تا مجاهدين امارت اسلامي را كه به منظور تطبيق اصول اسلامي جانهاي شيرين شانرا فدا مينمايند به تخطي از اصول اسلامي متهم نمود ؟ بعد از سر كوبي مليشه هاي وحدتي در باميان جهانيان و وسايل ارتباط جمعي شاهد اند كه هيچكدام از ژورنالستان آزاد و يا خبرنگاران وسايل ارتباط جمعي كه از باميان ديدن نموده اند در رابطه به وقوع چنين حادثات اظهار نظر نه نموده و در راپور هاي منتشره شان از استقرار صلح، آرامش و امنيت كامل در شهر باميان ياد آور گرديده اند كه مواسقات مذكور از جمله افتخارات مهم امارت اسلامي افغانستان نيز ميباشد. پس چگونه قبول نمائيم كه همه خبرنگاران خارجي در رابطه به اوضاع باميان حقايق را مستور داشته صرف بنا بر قول سازمان عفو بين المللي اشخاصي كه از يكاولنگ در اسرع زمان با طياره هاي شخصي خويش مقر سازمان عفو بين المللي در لندن رسيده اند راست ميگويند !!

حقيقت امر اينست كه دشمنان امارت اسلامي افغانستان و حاميان خارجي شان هر زمان بعد از شكست و نابودي در عرصه نظامي،لب به اتهامات بي بنياد و دروغين عليه امارت اسلامي افغانستان گشوده تا بدين ترتيب شكست هاي خويشرا از انظار جهانيان مخفي نگهداشته و وسايل ارتباط جمعي بين المللي را عوض نشر اخبار هزيمت شان به تبليغات پوچ و بيشرمانه عليه امارت اسلامي افغانستان سوق نموده و بدين ترتيب حمايت جهانيان بي خبر از حقايق در افغانستان را به جانب خود جلب نمايند كه متاسفانه سازمان عفو بين المللي نيز همواره در اين دام گير آمده و نا آگاهانه بر خلاف امارت اسلامي افغانستان به **تبليغات زهرآگين مي پردازد، اگر چنين نيست پس چه دليل است كه سازمان مذكور با ادعا هاي بيطرفي طرف مخالفين ما را گرفته و بر ضد امارت اسلامي افغانستان تبليغ مينمايد، سازمان عفو بين المللي بايد جواب مقنع ارائه نمايد !!!**

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdul Rahim Saqeb;
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331
Postal Add: U.P.O. Box # 1057 Peshawar - Pakistan
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press